مطبوعاتي اعلامیه

د قران او سنتو حاکمیت په راشده خلافت سره ممکن دی، نه د ډیموکراسی د اکثریت رایو پر بنسټ



(ژباړه)

عمران خان د پاکستان د دوه ویشتم لومړي وزیر په توګه، د ۲۰۱۸م د اګېسټ په ۱۹مه په خپله لومړنۍ وینا کې ځو ځلې د راشده خلفاوو روښانه دورې ته اشاره وکړه. په دې کې شک نشته چې د پاکستان مسلمانان، د حکومتولۍ لپاره اسلام د یوه سټنډرډ په توګه غواړي. د قران او سنتو په واسطه حاکمیت، د مدینې دولت او د اسلامي خلافت نظام عام موضوعات دي. اوسنی نظام یعنې ډیموکراسي هېڅکله د خلکو هیلې نه پوره کوي، ځکه په ډیموکراسۍ کې قوانین د پارلمان د اکثریت رایو پر اساس ټاکل کېږي او له قران او سنتو یې نه را اخلي. د همدې لپاره پخوا هم حکامو اسلام ته اشاره کړې؛ خو تل یې مسلمانان په ډیموکراسۍ خپه کړي دي. ذولفقار علی بوټو د مسلمانانو د یووالي لپاره چیغې وهلې. جنرال ضیاالحق اسلامي مجازات تصویب کړل او نوازشریف اسلامي قوانینو ته ژمن شوی و.

راشده خلفاوو د هغو قوانینو په وسیله، چې له قران او سنتو را اېستل شوي و، د عدالت، ابرو او قدرت د تامینولو په برخه کې ټول ویاړونه تر لاسه کړل. نو د راشده خلافت په نظام کې به یې د قضاوت حکم په قران او سنتو کولو، نه د ډیموکراسۍ په عنوان د برېتانیا د جزایي کود په وسیله. په راشده خلافت کې ټول په اقتصاد پورې اړوند قوانین له قران اوسنتو سره سم و، نه د پانګوالۍ نظام د شخصي اموالو د مالکیت قانون او سودي بانکونو پر اساس، چې اوس په پاکستان کې کار کوي. په راشده خلافت کې داخلي سیاست د هغه څه پر اساس پر مخ تلو، چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي و. نو ځکه ټولې اسلامي خاورې یو دولت ګڼل کېدې، نه بېل شوي ملتونه، لکه اوس چې په ډیموکراسۍ کې دي. په راشده خلافت کې بهرنی سیاست د مسلمانانو او اسلام دښمنو دولتونو، لکه هند او ننۍ امریکا سره هر ډول ائتلاف منع کړی و. څنګه چې د نبووت پر منهج د خلافت نظام اسلام پلی کوي بل هېڅ نظام یې نه شي پلی کولای. د همدې لپاره موږ د نارضایتیو د پای ته رسولو او د خپلو غوښتنو لپاره بل ځای ته اړتیا نه لرو. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ». قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

(رواه بخاری

ژباړه: د بني اسرايلو د چارو سياستوال د دوی انبياء وو، تر هر نبي وروسته به بل نبي راتلو، مګر له ما وروسته بل پيغمبر نه راځي؛ خو خلفا به وي او دوی به ډېر وي[يو پر بل پسې به راځي]. پوښتنه يې ترې وکړه: د هغوی په باره کې موږ ته څه امر کوې؟ ويې فرمايل: له دوی سره يو پر بل پسې بيعت وکړئ، ځکه چې الله سبحانه وتعالی له دوی څخه د هغه څه په اړه پوښتنه کوي، چې ورته سپارل شوي دي.

د حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر

د۱۴۳۹هق کال د ذوالحجې ۹مه

د ۲۰۱۸م کال د اګېست ۲۰مه

د صدور ګڼه:PR1805